


# Kardan Research Journal (KRJ)

Recognized by the Ministry of Higher Education, Afghanistan.
Journal homepage: krj.kardan.edu.af


# د افغانستان په پوهنتونونو کې د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوونې پروسې د یوولس ګونو معیارونو د تطبیق ارزونه


عبدالجبار وحدت



**To cite this article:** وحدت, ع. (2025). د افغانستان په پوهنتونونو کې د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوونې پروسې د یوولس ګونو معیارونو د تطبیق ارزونه. *Kardan Research Journal,* 2(1), 73–81.



*© 2025 The Author(s). This open access Article is distributed under a Creative Commons Attribution (CC-BY) 4.0 license. Published by Kardan University*



*Published online: 13 July 2025*



*Submit your article to this journal*

Article

Kardan Research Journal
2 (1) 73 – 81
©2025 Kardan University
Kardan Publications
Kabul, Afghanistan

# د افغانستان په پوهنتونونو کې د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوونې پروسې د یوولس ګونو معیارونو د تطبیق ارزونه

Received: 21 Oct 24
Revised: 29 Apr 25
Accepted: 19 May 25
Published: 13 Jul 25

عبدالجبار وحدت

## لنډیز

*د تضمین کیفیت برنامه په وروستیو کلونو کې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې رامنځته شوه، چې پایله یې تر ډېره پورې مناسبه او مثبته وه، یادې پروسې د لوړو زده کړو بنسټونه خپلې اساسي موخې (کیفیت) ته متوجه کړل، اړتیا ده چې په یاده برخه کې علمي څېړنې تر سره شي او پوهنتونونه د کمي کولو پر ځای تدریجا کیفي شي او په پایلو ولاړ تحصیلي نصاب او سیستم په کې رامنځته شي، همدارنګه د تضمین کیفیت پروسه د پوهنتونونو د کیفیت او شهرت ساتنې، ستراتیژیک لومړیتوب ټاکنې، مثبتې سیالۍ او اوږدمهاله بقاء لپاره نهایت اړینه ده.*

*په دې څېړنه کې د تضمین کیفیت پروسې د غوره تطبیق لارې چارې لکه محصل محوري، مستقله اداره رامنځته کول، نور نهادونه په دې پروسه کې شریکول، یاد معیارونه له سره کتل، عملا د کار تقاضا په نصاب کې مدنظر نیول او همدارنګه د تضمین کیفیت پروسې په وړاندې خنډونه لکه سیاسي مافیا حاکمیت، د واحد نظرونو نه شتون، د مستقلې او بې پرې ادارې نه موجودیت، د سکورینګ نا مناسب سیستم، او همداراز یاده پروسه له کاغذ څخه عمل ته داخلول په پوره بې طرفي او علمي شکل څېړل شوې دي.*

*د څېړنې د موندنو په اساس په افغانستان کې د کیفیت د تضمین پروسه د څېړنې د موندنو په اساس تر ډېره په کاغذي او نمایشي بڼه تر سره شوې او تاثیرات یې هم تر ډېره څرګند ځکه نه شول چې دا پروسه تر دوسیو پورې منحصره پاتې شوله.*

*په دې څېړنه کې د څېړنې له کیفي او کمي روشونو څخه ګټه پورته شوې ده او د یادې موضوع د دقیقې څېړنې په موخه پوښتنلیک ترتیب او پر مټ یې ځینې ارقام تر لاسه شوي، یاد پوښتنلیک د 220 کسانو له جملې څخه یې 200 کسانو ځواب کړی، چې ځواب ویونکي د تضمین کیفیت پروسې د عملي او حقیقي تطبیق غوښتنه کوي.*

***کلیدي کلیمې:** کیفیت، معیار، تحقیق، نصاب، ستراتیژیک لومړیتوب*

## سریزه

"الحمدلله رب العالمین ولصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله واصحابه اجمعین"

تضمین کیفیت پروسه د مشخصو معیارونو، طرزالعملونو او پالیسیو لرونکې ده چې د کیفي مشکلاتو د حل په موخه رامنځته کېږي او د یوه علمي بنسټ کیفیت تضمینوي، د لوړو زده کړو په بنسټونو کې تضمین کیفیت پروسه له ټاکل شویو معیارونو سره سم د علمي برنامې د کیفیت ارزونه کوي، یعنې کوم معیارونه چې ټاکل شوي له هغو سره تحصیلي

سیستم پرتله کوي، تضمین کیفیت (Quality Assurance) او د کیفیت کنټرول(Quality Control) په خپلو کې متفاوت الفاظ دي، تضمین کیفیت د محصول د توسعې په ټوله پروسه کې رول لري، مګر د کیفیت کنټرول د یوه محصول محدوده برخه په بر کې نیسي، تضمین کیفیت معمولا د تېروتنو تشخیص کوي، په تحصیلي بنسټونو کې د غوره پایلې تر لاسه کولو، محصلینو د رضایت، ښې روزنې او علمي بنسټونو د بقاء په موخه په کیفیت تمرکز نهایت اړین دی.

د تضمین کیفیت برخې تجربې ته په کتو یاده پروسه باید په شدت او عملا په ښه شکل پوهنتونونو کې تطبیق شي، د کاغذ پر مخ یې تطبیق زموږ تحصیلي ستونزې قطعاً نه شي حلولی، عملاً باید د یادې پروسې د SWOT تحلیل تر سره شي، د یادې پروسې د ضعف نقاط، قوت نقاط، همدارنګه فرصتونه او تهدیدونه باید تر غور لاندې ونیول شي، په دې مقاله کې هڅه شوې چې تنقیدي او علمي بحث وشي او په علمي بنسټونو کې یاده پروسه په رښتینې توګه وڅېړل شي، په افغانستان کې د تضمین کیفیت پروسې د تطبیق په تړاو مشخصې تطبیقي علمي څېړنې نه دي تر سره شوي او یا ممکن بیخي کمې تر سره شوې وي، لا هم د یادې پروسې د تطبیق عملي لارې چارې واضحې شوې نه دي، په دې برخه کې لویه څېړنیزه خالیګا تر سترګو کېږي، لازمه بلل ده چې د یادې څېړنیزې تشې د ډکولو په موخه دا څېړنه تر سره شي او پورته خلا به د همدې تحقیق پر مټ ډکه شي، د یادې څېړنې د تر سره کولو څخه اساسي هدف د ادی چې د افغانستان په پوهنتونونو کې د تضمین کیفیت پروسه د تطبیق رښتینې څېړنه او ارزونه تر سره شي، مثبت او ملموس تاثیرات یې واضح شي او د یادې پروسې د تطبیق پر مهال د ځینو ننګونو یادونه وشي او په نهایت کې مناسبې او تطبیقي د حل لارې وړاندې شي.

د دې مقالې ترتیب له کتابتوني کړنلارې څخه شروع شو، سروې او د معلوماتو معتبر سایټونه وکارول شول، همدارنګه د معلوماتو له راټولولو وروسته موضوعات په مختلفو مبحثونو ووېشل شول، هره موضوع په خپل ځای کې تحلیل شوې ده، د موضوعاتو په تحلیل کې پوره بې طرفي ساتل شوې ده.

دا چې په افغانستان کې د تضمین کیفیت پروسه په څه ډول تطبیقیږي، ولې یاده پروسه تر کاغذ پورې منحصره ده، د عملي تطبیق لپاره یې کومې ستراتیژۍ اړینې دي، د یادې پروسې د تطبیق په وړاندې خنډونه څه دي. دې پوښتنو ته به د همدې تحقیق په پای کې مناسب ځوابونه وویل شي.

## د ستونزې تشریح

د تضمین کیفیت د پروسې اړوند ځینې تحقیقات شوي دي، مګر مشخصا په افغانستان کې د تضمین کیفیت یوولس ګونو معیارونو اړوند کومه څېړنه نه ده تر سره شوې، بناء د ستونزې د حل لپاره د ستونزې تشخیص نهایت مهم دی، په یاده برخه کې یوه مشخصه څېړنیزه خالیګا شتون لري چې د همدې خالیګا د ډکولو لپاره یاده څېړنه ځواب ویونکې ده.

## د څېړنې روش او مواد

د څېړنې روش تر ډېره کیفي دی، له کمي میتود هم ګټه پورته شوې ده، د معتبرو داخلي او خارجي منابعو، د انټرنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه ګټه پورته شوې ده. د لا زیات دقت په موخه د پوښتنلیکونو او مرکو پر مټ له تحصیلي بنسټونو څخه د لومړي لاس مالومات راټول شوي، په دې څېړنه کې ۲۲۰ جمیعت په نظر کې نیول شوي و چې د ۲۰۰ کسانو نمونه د مورګن په اساس ټاکل شوې، پوښتنې مشخصا له علمي کادر غړو څخه مطرح شوې دي او همدارنګه د کار په بازار کې هم د استخداموونکو سازمانونو ځینې مسؤلین پوښتل شوي. هڅه شوې چې مالومات د لومړي لاس وي، که چېرې د لومړي لاس مالومات په کافي اندازه نه وو، نو د دوهم لاس له مالوماتو څخه ګټه پورته شوې، د تحقیق مواد

په همدې ډول راټول شوي دي، یاده راټوله شوې ډاټا د اکسیل پروګرام پر مټ تحلیل شوې او لوستونکو ته یوه ملموسه پایله وړاندې شوې.

## د څېړنې اهمیت

د دې څېړنې اساسي اهمیت په دې کې دی چې په افغانستان کې د تضمین کیفیت پروسه په درست ډول تحلیل او تطبیق شي، کمزوري نقاط یې په قوت بدل شي، له شته فرصتونو څخه ګټه واخیستل شي، د یادې پروسې د تطبیق په وړاندې خنډونه په ګوته شي، مناسبې حل لارې ورته وړاندې شي، همدارنګه یاده پروسه معیاري او نهاد شموله شي او په داسې بڼه په پوهنتونونو کې تطبیق شي چې نتیجه یې مطلوبه او د پام وړ وي.

## د څېړنې پوښتنې

د دې څېړنې په پای کې به لاندې پوښتنو ته ځواب وویل شي:

1. د افغانستان په تحصیلي بنسټونو کې د کیفیت د تضمین پروسې څه ډول تطبیقېږي؟
2. د کیفیت د تضمین معیارونو د تطبیق پر وړاندې پراته خنډونه څه دي؟
3. د کیفیت د تضمین پروسه څه ډول له کاغذ څخه په عمل کې تطبیقولی شو؟

## د څېړنې موخې

1. په افغانستان کې د تضمین کیفیت پروسې د ښه تطبیق لارې چارې په ګوته کول.
2. د کیفیت د تضمین د تطبیق پر وړاندې د شته خنډونو په نښه کول او له منځه وړل.
3. د کیفیت د تضمین پروسه د کاغذ له مخ څخه د عمل ساحې ته داخلول او د عملي تطبیق لارې چارې وړاندې کول.

## د څېړنې محدودیت

په افغانستان کې د یوې څېړنې اړوند جدي ستونزه د تخصصي کتابتونونو او معلوماتو کموالی دی، دغې څېړنه کې د وخت محدود والی او همدارنګه د تضمین کیفیت د برخې مسؤلینو له خوا په مشخص وخت د فیډبک نه تر لاسه کول وو.

## **ادبیاتو ته بیا کتنه**

د تضمین کیفیت پروسې اړوند په بېلا بېلو هېوادونو کې څېړنې تر سره شوي چې یوې څېړنې د تضمین کیفیت په پروسه کې ټول کارمندان دخیل وبلل او هر یو یې په خپل ځای مسؤل وبلل، او تضمین کیفیت روانه پروسه یې هغه وخت موثره بللې، کله چې پلان شوي اهداف په واقعي معنا تر لاسه شي (Australian Higher Education Council,1994) .

یوه بله څېړنه چې د تضمین کیفیت اړوند تر سره شوې خلاصه یې دا ده یوه پروسه یا تولید چې نهایت مطلوبیت ولري او د مشتري رضایت حاصل کړي، دوام او رښتینولي پکې وي د کیفیت بهترین تضمین یې بللی دی(Guaspari, 1985) .

تضمین کیفیت د بنچمارک ټاکنې لپاره اړینه ده او پوهنتونونه باید په یاده پروسه کې یو ډیپارټمنت د بنچمارک په شکل ځانته وټاکي (David D. Dill,2017 ).

که څه هم د تضمین کیفیت پروسې اړوند ځینې تحقیقونه شوي دي، اما مشخصا په افغانستان کې د تضمین کیفیت پروسې اړوند هیڅ مرتبط تحقیق نه تر سترګو کیږي چې دا د تحقیق یوه خلا وه او په دې تحقیق سره به یاده ستونزه تر ډېره پورې حل شي.

د دې مقالې ترتیب له کتابتوني کړنلارې شروع شو، سروې او د معلوماتو معتبر سایټونه وکارول شول، همدارنګه د معلوماتو له راټولولو وروسته په مختلفو مبحثونو ووېشل شول. هره موضوع په خپل ځای کې تحلیل شوې ده، د موضوعاتو په تحلیل کې بې طرفي ساتلې شوې ده. لا هم اړتیا محسوسېږي چې په دې برخه کې علمي تحقیقات تر سره شي.

## لومړی مبحث: د تضمین کیفیت پروسه

د تضمین کیفیت پروسه د PDCA په ماډل کې خلاصه کوو:

1. **لومړۍ مرحله - پلان(Plan):** دا لومړۍ او تر ټولو مهمه مرحله ده چې د تضمین کیفیت مسولین اهداف په کې ټاکي او هدف ته د رسېدو په موخه پلان جوړونه کوي او هر احتمالي مشکل پیش بیني کوي.
2. **عمل(Do):** دا مرحله په پوره تدبیر سره د اجراء مرحله ده او دوهمه مرحله د کارکوونکو روزنه او ظرفیت لوړونه په بر کې نیسي، کله چې پلان جوړ شو د عمل پړاو شروع کېږي.
3. **بررسي(Check):** په درېیمه مرحله کې اهداف پرتله کېږي او مقایسوي بحث کېږي، له پخوا ټاکل شوي اهداف له تحقق یا تر لاسه شوو اهدافو سره مقایسه کېږي، چې ایا معیار تطبیق شوی دی او که نه.
4. **اجراء (Act):** په دې مرحله کې د مخکینۍ مرحلې نتایجو په اساس د کیفیت د تضمین په موخه اقدام کېږي او دا مرحله د تضمین کیفیت برنامې د طرحې د تغییر مرحله هم یادولی شو، حتی په دې مرحله کې ستراتیژي ټاکلی او تغیرولی شو.

## دویم مبحث: د افغانستان په پوهنتونونو کې د تضمین کیفیت اهمیت

تضمین کیفیت له سازمانونو سره مرسته کوي چې د پام وړ محصول او خدمات وړاندې کړي، د سازمان اوږد مهاله بقا تضمینوي، د سټندرډونو او مقرراتو رعایتول دوامداره تحصیلي بهبود رامنځته کوي، د نهاد شهرت ساتي،د مشتریانو یا محصلینو رضایت حاصلوي، سازمان ته د رقابت وړتیا ورکوي، همدارنګه د عیبونو، تېروتنو او ضایعاتو کمول، د مشتریانو د رضایت او وفاداري جلبول، د ګټې زیاتوالی او با ظرفیته محصلین روزل.

## درېیم مبحث: په افغانستان کې د تضمین کیفیت چوکاټ[1]

د افغانستان په پوهنتونو کې د تضمین کیفیت کومه پروسه چې تطبیقیږي په خپل چوکاټ کې (11) اصلي او (49) فرعي معیارونه لري، چې په لاندې ډول یې لنډه یادونه کوو:

1. ماموریت او ستراتیژي
2. د ټولنې په پرمختګ کې د پوهنتون ونډه اخیستنه
3. حاکمیت، مشري او اداره
4. مالي او اداري سرچینې

[1] QAAD

5. اکاډمیک پروګرامونه
6. څېړنه
7. استادان او کارکوونکي
8. زده کړیال ازمایښتونه (محصل تجارب)
9. د کیفیت لوړاوی
10. کتابتون او مالوماتي سرچینې
11. تدریس، مالوماتي ټکنالوجي، او اسانتیاوې

د پورته معیارونو په اساس ټول تحصیلي سیستم ارزول کېږي چې د نورو مثبتو زیاتونو او کمونو اړتیا په کې تر سترګو کېږي.

## څلورم مبحث: د تضمین کیفیت اصول

- **له هدف سره تناسب(Fit for Purpose):** د دې اصل په اساس باید محصول یا تولید د هدف مطابق وي ، یعني کوم هدف چې ټاکل شوی، له هغه سره سم باید وروزل شي.
- **په لومړیو کې د کار په ښه شکل ترسره کول (Right First Time):**

په دې وخت کې باید هڅه وشي چې د محصل یا محصول ابتدا او اساس با کیفیته وټاکل شي او اشتباه او نقص تقریبا صفري نقطې ته راوستل شي.

**بنچمارک[2] ټاکل:** د تضمین کیفیت د بهبود په موخه د بنچمارک ټاکل ډېر مهم دي او مهم اصل دی، مثلا یو پوهنتون د ځان لپاره یو بل پوهنتون بنچمارک ټاکي.


## په افغانستان کې د تضمین کیفیت پروسې د SWOT تحلیل

| د تضمین کیفیت پروسې د تطبیق قوت نقاط | د تضمین کیفیت پروسې د تطبیق ضعف نقاط |
|---|---|
| علمي کادر ذهنیت سازي شوې ده | لا هم د تضمین کیفیت د واحدو فارمټونو نه شتون |
| د پوهنتونونو ظرفیت په دې برخه کې ښه شوی دی | د ځینې پوهنتونونو څخه د روزل شویو کادرونو فرار |
| وخت په وخت نهادونو ته د لوړو زده کړو وزارت له لورې مشورې ورکول کېږي | د پخواني منجمد فرهنګ شتون |
| په دې برخه کې سخت او زیات کار کول | د دوامداره څارنې نشتون |
| د تضمین کیفیت په سایټ کې د یادو موادو موجودیت | په دې برخه کې د ظرفیتونو نشتون |
| | د دې پروسې پر مخ وړل یوازې د عالي تحصیلاتو له ادرسه |
| **د تضمین کیفیت پروسې د تطبیق پروراندې تهدیدونه** | **د تضمین کیفیت پروسې د تطبیق فرصتونه** |
| په افغانستان کې د تضمین کیفیت فرهنګ نشتون | په افغانستان کې سر تاسري امنیت |
| یو وخت د امنیت نشتون | شفافیت او هر چاته حق سپارل |
| مالي فساد | د مافیا ونډه له تحصیلي سیستم څخه کمول |
| د سیاسي او پولي مافیا حاکمیت | ځوانه او پر انرژي بشري قوه |

2 Benchmarking

| | |
|---|---|
| د فیوډالي یا کپیټالیستي طبقې حاکمیت پر تحصیلي سیستم | د تضمین کیفیت لپاره ښه ذهنیت سازي |
| د تحصیلي بنسټونو پخواني سیستمونه او فکري جمود | د لوړو زده کړو وزارت سربېره باید په دې پروسه کې نور وزارتونه هم ونډه واخلي |
| د پوهنتونونو کمزورى اقتصادي وضعیت | په تحصیلي برخه کې د سیمې د هیوادونو د همکارۍ میلان |
| د متخصص بشري ځواک کمښت | |


## احصائیوي تحلیل




| ګڼه | پوښتني/نظریات | زیات نا موافق(1) | نا موافق(2) | بې طرفه(3) | موافق(4) | ډېر موافق(5) | په کلي توګه د موافقت(مثبت اغېز) سلنه(5) | په کلي توګه د عدم موافقت(منفي اغېز) سلنه(1) | total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | ماموریت او ستراتیژي دپوهنتون کیفي اهدافو تر لاسه کولو لپاره مهم دی | 7 | 9 | 22 | 122 | 40 | 81.00 | 19 | 200 |
| 2 | د ټولنې په پرمختګ کې د پوهنتون ونډه اخیستنه د باکیفیته زده کړو پر مټ ممکنه ده | 4 | 4 | 6 | 152 | 34 | 93 | 7 | 200 |
| 3 | حاکمیت، مشري او اداره د پوهنتونو د کیفي کولو او مدیریت لپاره مهم دي | 12 | 8 | 22 | 108 | 50 | 79 | 21 | 200 |
| 4 | د مالي او اداري سرچینو مدیریت کیفیت په بهبود کې رول لري | 10 | 17 | 34 | 119 | 20 | 69.5 | 30.5 | 200 |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | باکیفیته اکاډمیک پروګرامونه د محصل په روزلو اغېز کوي | 8 | 11 | 20 | 140 | 21 | 80.5 | 19.5 | 200 |
| 6 | نوې څېړنې د علم په تولید او کیفیت په تضمین کې رول لري. | 21 | 13 | 14 | 101 | 51 | 76 | 24 | 200 |
| 7 | مسلکي استادان او کارکوونکي د کیفیت په رامنځته کولو کې رول لري | 7 | 14 | 38 | 120 | 21 | 70.5 | 29.5 | 200 |
| 8 | د محصل ونډه د کیفیت په ښهبود کې مهمه ده | 3 | 8 | 45 | 111 | 33 | 72 | 28 | 200 |
| 9 | د کیفیت لوړاوی د علمي بنسټونو د بقا لپاره اړین دی | 7 | 10 | 8 | 121 | 54 | 87.5 | 12.5 | 200 |
| 10 | کتابتون او مالوماتي سرچینې د باکیفیته زده کړو لپاره مهمې دي | 24 | 9 | 25 | 98 | 44 | 71 | 29 | 200 |
| 11 | تدریس، مالوماتي ټکنالوژي، او ا روغتیایي اسانتیاوې د کیفیت رامنځته کولو کې رول لرډ | 6 | 10 | 8 | 136 | 40 | 88 | 12 | 200 |
| | اوسط | 9.91 | 10.27 | 22.00 | 120.73 | 37.09 | 78.91 | 21.09 | |

د کیفیت د تضمین یوولس ګونو معیارونو  مثبت او منفي اغېز اړوند پای ګراف




## د تحقیق نتایج

په  دې علمي څېړنه کې مختلف نظریات و ارزول شول او د دې تحقیق په پایله کې دې نتیجې ته رسېږو چې  78 سلنه علمي وګړي د تضمین کیفیت پروسې اړوند مثبت نظر او  22% د کیفیت په تړاو منفي نظر لري. د ځواب ویونکو له انده په علمي بنسټونو کې د تضمین کیفیت روانه پروسه تر ډېره د کاغذ پر مخ ده، سره له دې چې په ځینو برخو کې یې مثبت اثرات کړي دي.

همدارنګه د یادې پروسې د SWOT تحلیل شوی دی چې امنیت، عامه پوهاوی، علمي کادرونه او دې برخې ته میلان مثبت نقاط ښودل شوي. کاغذپراني، دواحد فارمټ او واحد نظر نشتون، او دا چې لا هم یاده پروسه نهاد شموله نه ده منفي نقاط بلل شوي دي.  د مافیا حاکمیت،علمي کادر فرار، جامد فکر او فارمټونه د یادې پروسې لپاره تهدید بللی شو او سرتاسري امنیت، د نړۍ له  پوهنتونونو په دې برخه کې مرسته اخیستل راتلونکي فرصتونه بلل شوي دي.

مهمې موندنې دا دي چې دا پروسه باید عملي او تطبیقي بڼه پیدا کړي، د سکورینګ سیستم یې معیاري شي، معیارونه یې له سره و ارزول شي، د عملي تطبیق لپاره یې نوې ستراتیژي جوړې شي او علمي ظرفیتونه په دې برخه کې ورزول شي.

همدارنګه د یو نهاد له خوا دا پروسه رامنځته کول او بیرته یې د همدې ادارې له ادرسه تطبیقول یو علمي نهاد ته اعتبار ورکول دي. د تحقیق موندنې په لاندې ډول خلاصه کولی شو چې  د تضمین کیفیت  اداره باید بشپړ استقلالیت پیدا کړي،

د بیروکراسي څخه د امکان تر حده باید مخنیوی وشي او عملي ستراتیژي ورته جوړې شي، د دې پروسې دوام او بهبود مهم دی چې د لوړو زده کړو وزارت باید دا کار وکړي، د تضمین کیفیت د سکورینګ( نمبرو ورکولو سیستم ) باید له سره وارزول شي، په دې برخه کې باید علمي کادرونه ښه ورزول شي، دا پروسه باید نهاد شموله شي، واحد فارمټونه باید جوړ شي، او سیتماتیک ډول دې پروسې ته کار وشي.

## بحث

په دې برخه کې کوښښ شوی چې مطرح شویو پوښتنو ته ځواب پیدا شي چې لومړی د افغانستان په تحصیلي بنسټونو کې د کیفیت د تضمین پروسې څه ډول تطبیقېږي. ځواب دا دی چې دغه پروسې تر ډېره یوه رسمي بڼه لري او د یو عادت او مجبوریت له مخې تطبیقیږي چې عملا نتیجه یې کمه محسوسېږي. باید ارزونکي د اسنادو پر ځای په عملي مشاهده تمر کز وکړي. همدارنګه د څېړنې دوهم سوال دا دی چې د کیفیت د تضمین د تطبیق پر وړاندې پراته خنډونه څه دي. ځواب یې دا دی چې یاده اداره غیر مستقله ده. خو بایدخپلواک تصامیم ونیسي، د مافیا او احتمالي فساد سلنه باید راکمه شي، د یوه نهاد له ادرسه باید یاده پروسه پر مخ لاړه نه شي او تطبیقوونکي یې باید خپله نهایت مسلکي و اوسي. بله پوښتنه دا ده چې د کیفیت د تضمین پروسه څه ډول له کاغذ څخه په عمل کې تطبیقولی شو. ځواب یې دا دی چې د عملي تطبیق لپاره جامع میکانیزم او پالیسی جوړې شي او د مشاهدې نمرې له تیوري څخه څو چنده زیاتې شي او یوولس ګونې معیارونه له سره وکتل شي، د مشاهدې برخې او عملي تاثیراتو ته ځانګړې توجه وشي او سکورینګ سیستم د مشاهدې مطابق عیار شي.

## پایله

تضمین کیفیت د کیفیت د بهبود یوه مهمه پروسه ده چې د سازمانونو بقا، د مطلوبه اهدافو تر لاسه کول، د ټولنې علمي ظرفیت لوړول، د مراجعینو رضایت، مفدیت، موثریت او مثمریت رامنځته کوي. تضمین کیفیت یوه داسې مهمه پروسه ده چې د پوهنتون ټولې پالیسی، کړنلارې، طرحې او علمي پروګرامونه ارزوي او محصل لپاره خلاقیت رامنځته کوي. د تدریسي سیستم ارزونه، محصل محوري، د علمي پروګرام یا برنامې ارزونه، د استخداموونکو ادارو څخه فیډبک تر لاسه کول هغه مهم موارد دي چې په افغانستان کې د تضمین کیفیت د پروسې د تطبیق په پایله کې په نظر کې نیول کېږي، همدارنګه تضمین کیفیت د پوهنتونونو د شهرت ساتنې، مثبتې سیالی، اوږدمهاله بقا لپاره نهایت اړین دی. همدارنګه تضمین کیفیت محصل له تیوري څخه د عمل په طرف رهنمايي کوي او په دې پروسه کې هڅه کېږي چې د زده کړې او کار ځای تر منځ اوږد واټن را لنډ کړي، په دې علمي څېړنه کې مختلف نظریات ارزول شوي چې د 78% فیډبک مثبت او د 22% د کیفیت په تړاو منفي و. همدارانګه د ځواب ویونکو له انده په علمي بنسټونو کې د تضمین کیفیت روانه پروسه تر ډېره د کاغذ پر مخ ده، سره له دې چې په ځینو برخو کې یې مثبت اثرات کړي دي. همدارنګه د یو نهاد له خوا دا پروسه رامنځته کول، بیرته یې د همدې ادارې له ادرسه تطبیقول، یوه علمي نهاد ته اعتبار ورکول دي. د تحقیق موندنې په لاندې ډول خلاصه کولی شو چې د تضمین کیفیت اداره باید بشپړ استقلالیت پیدا کړي، د بیروکراسي څخه د امکان تر حده باید مخنیوی وشي او عملي ستراتیژۍ ورته جوړې شي، د دې پروسې دوام او بهبود مهم دی چې تحصیلاتو وزارت باید دا کار وکړي ، د تضمین کیفیت د سکورینګ( نمبرو ورکولو سیستم ) باید له سره وارزول شي، په دې برخه کې باید علمي کادرونه ښه ورزول شي، دا پروسه باید نهاد شموله شي، واحد فارمټونه باید جوړ شي، او په سیتماتیک ډول دې پروسې ته کار وشي او همدارنګه د تضمین کیفیت د ستراتیژۍ، تحقیق، بشري سرچینو، مالي مدیریت، د ټولنې بهبود کې ونډه اخیستنه او نور معیارونه باید په عمل کې تطبیق شي، چې پایله به یې ډېره مثبته او ملموسه وي.

## سپارښتنې

1. ځومره چې ژر ممکنه وي یاده اداره باید خپلواکه شي.
2. د لوړو زده کړو وزارت تر څنګ باید نور علمي نهادونه هم په یاده پروسه کې دخیل شي.
3. د سکورینګ یا نمبرو سیستم باید اصلاح شي.
4. دا پروسه باید د پروژې پر ځای په واقعي پروسې بدله شي.
5. د علمي بنسټ د هر کارمند د وظایفو د لایحې اساسي برخه باید وګڼل شي.
6. معیارات باید له سره و ارزول شي.
7. په دې برخه کې باید ظرفیت سازي وشي.
8. د تضمین کیفیت د ارزونې په پروسه کې باید د کاغذ پر ځای پر مشاهدې تمرکز وشي.

## References


Australian Universities Quality Agency. (2009). *Setting and monitoring academic standards for Australian higher education: A discussion paper*. http://www.auqa.edu.au/qualityenhancement/academicstandards/.../17.pdf

Brennan, J., & Shah, T. (2000). *Managing quality in higher education: An international perspective on institutional assessment and change*. Buckingham, UK: OECD, SRHE & Open University Press.

Brewer, D., Gates, S. M., & Goldman, C. A. (2002). *In pursuit of prestige: Strategy and competition in US higher education*. New Brunswick, NJ: Transaction Press.

Cave, M., Hanney, S., Henkel, M., & Kogan, M. (1997). *The use of performance indicators in higher education: The challenge of the quality movement* (3rd ed.). London: Jessica Kingsley.

Dill, D. D. (1992). Academic administration. In B. R. Clark & G. Neave (Eds.), *The encyclopedia of higher education* (pp. 1318–1329). Oxford: Pergamon Press.

Dill, D. D., Massy, W. F., Williams, P. R., & Cook, C. M. (1996). Accreditation and academic quality assurance: Can we get there from here? *Change, 28*(5), 16–24.

Dill, D. D., & Soo, M. (2005). Academic quality, league tables, and public policy: A cross-national analysis of university ranking systems. *Higher Education, 49*(4), 495–533. https://files.eric.ed.gov/fulltext/ED629115.pdf


## About the Author


**Mr. Abdul Jabar Wahdat,** *National Budget General Director, Ministry of Finance, Kabul, Afghanistan. <wahdat1020@gmai.com>*